د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق – ځکه چې پر هر چا حساب کيږي

مطبوعاتی خبرتيا

جلالتماب آغلې ډاکټره ثريا دليل د عامې روغتيا سرپرسته وزيره او ډاکټر لورنټ زيسلر د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق استازی د کورنی تنظيم په اړه د ملی کنفرانس پرانيسته کوی

۲۸ فبروری ۲۰۱۲

کابل افغانستان – جلالتمآب آغلې ډاکټر ثريا دليل، د عامې روغتيا وزيره او د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق استازی ښاغلی ډاکټر لورنټ زيسلر، د حج او اوقافو وزارت او د علماوو د شورا استازی د کورنی تنظيم په اړه د لومړی کنفرانس پرانيسته کوی.

جلالتماب آغلې ډاکټر ثريا دليل د غونډې په پرانيسته وينا کې وويل"د افغانستان د مړينې سروې کال ۲۰۱۰ له مخې، ۹۰ سلنه اوس مهال واده شوې ميرمنې د حمل د مخنيوی په طريقه پوهيږی مګر يواځې ۲۲ سلنه يې د کورنی تنظيم طريقه کاروی. زه اميد لرم چې دغه کنفرانس به زمونږ سره د دغه واټن په کمولو کې مرسته وکړي. زما دولت او زما هيوادوال د دغه کنفرانس پايلو ته ګوری ځکه چې دا يو داسې دريځ ته لار پيدا کوی چې مونږ خپلې تجربې او مالومات سره شريکولی شو او د آخيری کوښښ په توګه کولی شو چې د زريزه پراختيايی موخې ۵ شمير ترلاسه کړو کوم چې د ميندو د مړينې د يو په دريمه کموالی ته اشاره کوی او تر کال ۲۰۱۵ پورې د اميدواری روغتيا ته نړيوال لاسرسی تضمينوی.

د دوو ورځو په بحث او ګردی ميز په ترځ کې نړيوال او ملی ميلمانه په افغانستان کې د کورنی تنظيم په اړه ننګونې او فرصتونه لټوی. دغه کنفرانس له اسلامی هيوادونو څخه ګدون وال سره يو ځای کوی تر څو له افغان ګډونوالو سره د ماشومانو به مينځ کې د وقفې او د کورنی تنظيم په اړه خپلې تجربې شريکې کړی.

د کورنی تنظيم ته لاسرسی کولی شی ژوندونه وژغوری. د کورنی تنظيم د ميندو او د نوی زيږيدليو ماشومانو مړينه کموی او د ميرمنو، د هغوی ماشومانو او کورنيو روغتيا ته وده ورکوی. دغه د کنفرانس د پرانيستې پيغام وو.

د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق استازی ښاغلی ډاکټر لورنټ زيسلر وويل "د کورنی تنظيم تعهد ته وده ورکول د يوه بشپړ پکيج د يوې برخې په توګه د اميدواری روغتيا د همکار منځګړيتوب په توګه کولی شو چې مونږ بې وزلي کمه کړو، د ميندو روغتيا ته وده ورکړو، د ميرمنو واک رسولو او جنسی برابر والی ته وده ورکړو او د اتو زريزو پراختيايی موخو په ترلاسه کولو کې پرمختک وکړو"

د کورنی تنظيم په اړه دغه کنفرانس د عامې روغتيا وزارت لخوا چمتو شوی وو چط تخنيکی همکاری ورسره د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق او د وګړو د پروګرامونو د مديريت نړيوالې شورا کوله. د دغه کنفرانس مال ملاتړ د ايس لينډ دولت پر غاړه اخيستی.

پای

**اړيکه:**

**د عامې روغتيا وزارت ډاکټر غلام سخی نوروغلی**k.norughli@moph.gov.af

**د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق استازی آغلی ګايا ستريجيلی**chitistrigelli@unfpa.org